**بسم الله الرحمن الرحيم**

## پوښتنې ته ځواب

## یوې ښځې ته روا نه ده، چې د شرعي ماذون (نکاح تړونکي) په توګه د نکاح عقد ترسره کړي

پوښتونکې: ام مومن مريم بدر

**پوښتنه:**

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته!

زما محترم وروره! هيله ده زما نېکې هيلې او پېرزوينې ومنئ.

د الخليل په ښار کې دوې ښځې د شرعي نکاح د تړونکو (ماذون) په توګه ګومارل شوې او دا صلاحيت ورکړل شوی، چې د نکاح تړونونه ترسره کړي.

زما محترم وروره! پوښتنه مې دا ده چې ايا د ښځې لپاره روا ده چې بله ښځه په نکاح ورکړي او د بلې ښځې د نکاح تړون ترسره کړي؟ تر هغه ځايه چې زه پوهېږم په لاندې حديث کې په دې ډول يادونه شوې:

**«لاَ تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ وَلاَ تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا فَإِنَّ الزَّانِيَةَ هِيَ الَّتِي تُزَوِّجُ نَفْسَهَا»**

(صحيح بخاري)

***ژباړه:*** *يوه ښځه بايد بله ښځه په نکاح ور نه کړي او نه بايد يوه ښځه خپل ځان ځا ته په نکاح کړي. په حقيقت کې يوازې زناکاره ښځه ده، چې خپل ځان بل ځا ته په نکاح کوي.*

که دا روا نه وي، ايا د نکاح هغه تړون چې د ښځې له لوري شوی دی، روا دی او که ناروا؟

الله سبحانه وتعالی دې لوی اجر درکړي.

**ځواب:**

وعليکم السلام ورحمت الله وبرکاته.

د دغې پوښتنې په ځواب کې لومړی بايد د شرعي حکم واقعيت وپېژندل شي؛ چې يوه ښځه ښايي خپل ځان پخپله او يا هم يوه بله ښځه په نکاح ور نه کړلی شي. همدارنګه د نکاح تړونکي (ماذون) واقعيت بايد وپېژندل

شي او وروسته باید هغه اسناد وڅېړل شي، چې پر بنسټ یې د نکاح تړون کوي. دا حکم هم باید په ډاګه شي چې یوه ښځه بله ښځه په نکاح ور نه کړلی شي، ایا دا په ماذون پورې تړاو لري که نه، یا دا چې ماذون دې هم پخپله ښځه وي.

**لومړی: د شریعت حکم د هغې ښځې په تړاو چې خپله ځان په نکاح ورکوي یا یوه بله ښځه په نکاح ورکوي:**

له شرعي اسنادو څخه د شریعت دغه حکم په ډاګه کېږي؛ چې ښځې ته اجازه نه ورکوي، ترڅو خپل ځان په نکاح ورکړي. یعنې دا د نکاح تړون نه شي ترسره کولی، پرته له دې چې یو ولي (قانوني استازی) وټاکي، ترڅو د دې استازیتوب وکړي. که ولي د نکاح د تړون لپاره نه وي، نو هغه څوک به وټاکل کېږي چې د ولي ځای ډکولی شي.

د یوې ښځې لپاره دا هم روا نه ده چې په خپل استازیتوب د بلې ښځې د نکاح تړون ترسره کړي. یعنې ښځه ولي کېدلی نه شي یا د نکاح په تړون کې د یوې بلې ښځې استازې کېدلی نه شي. د فقهي کتابونو له ولایه نکاح فصل سره سم یوازې نارینه د ولي او وکیل په توګه ټاکل کېدای شي. موږ له اسنادو سره یو ځای په ټولنیز نظام کتاب کې ویلي وو، چې ښځه دا صلاحیت نه لري، چې خپل ځان پخپله په نکاح ورکړي او یا هم بله ښځه په نکاح ورکړي؛ حالتونه یې په لاندې ډول دي:

«... که د نکاح تړون وشي، نکاح په دې شرط صحیح ده، چې ټول شرطونه یې پوره وي او هغه شرطونه درې دي:

... دویم شرط یې دا دی؛ له ولي پرته نکاح صحیح نه ده، ځکه ښځه دا حق نه لري چې خپل ځان یا بله ښځه په نکاح ورکړي. په ورته وخت کې دا حق هم نه لري، چې له خپل ولي پرته بل چا ته د ځان د نکاح کېدو صلاحیت ورکړي. که یې دا کار وکړ، نکاح یې صحیح نه ده. په همدې اړه ابو موسی "رض" روایتوي، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «**لا نِكاحَ إلا بِوَليّ**» (د ولي له اجازې پرته نکاح نشته.) [ دا روایت ابن حبان او الحاکم کړی دی.]

په همدې اړه یو بل ځای حضرت عایشه "رض" له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایتوي:

«**أَيمُّا امْرَأَةٍ نَكَحَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ وَلِيِّهَا فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَنِكَاحُها بَاطِلٌ فَنِكَاحُها بَاطِلٌ**»

(الحاکم روایت کړی)

***ژباړه:*** *هغه ښځه چې له خپل ولي پرته نکاح وکړي، نکاح یې باطله ده، باطله ده او باطله ده.*

همدارنگه ابوهریره "رض" له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی، چې فرمایي:

**«لَا تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ وَلَا تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا فَإِنَّ الزَّانِيَةَ هِيَ الَّتِي تُزَوِّجُ نَفْسَهَا»**

***ژباړه:*** *یوه ښځه به بله ښځه په نکاح نه ورکوي، نه به خپل ځان په نکاح ورکوي. په حقیقت کې یوازې زنا کاره ښځه خپل ځان پخپله په نکاح ورکوي.»* د اسلام ټولنیز نظام د متن پای.

الدارقطني دغه حدیث په لاندې ډول روایت کړی دی؛ عبدالرحمن بن محمد المحارابي له عبدالسلام بن حرب، هغه له هشام، هغه له ابن سیرین او هغه له ابو هریره څخه روایت کړی، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«لاَ تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ وَلاَ تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا»**

***ژباړه:*** *یوه ښځه بله ښځه په نکاح نشي ورکولی او نه باید خپل ځان په نکاح ورکړي. هغه ښځه چې خپل ځان په نکاح ورکوي، فاجره (فاحشه) ده.*

د البیهقي د روایت له مخې ابوهریره "رض" وویل: «موږ هغه چا ته چې خپل ځان پخپله په نکاح ورکوي، د زنا کارې په سترگه گورو.» په اروا الغلیل في تخرج احادث منار السبیل (۶/۲۴۸) کې چې لیکوال یې محمد ناصرالدین الالباني دی (د وفات نېټه: ۱۴۲۰ هـ ق). د دغه حدیث په تړاو داسې وایي: «زه وایم چې د دغه حدیث اسناد د دوو شیخینو د شتون په شرط صحیح دي.» له همدې امله د یوې ښځې لپاره روا نه ده، چې د نکاح تړون ومني او یا د نکاح وړاندیز وکړي. یعنې چې د خپلې نکاح تړون ومني او یا هم د ولي په توگه د بلې ښځې وړاندیز وکړي. په دغه لاندې حدیث کې ټول جزیات شته دي:

**«لاَ تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ وَلاَ تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا»**

***ژباړه:*** *یوه ښځه خپل ځان او بله ښځه په نکاح نشي ورکولی.*

**دویم: د نکاح تړونکي (ماذون) کار او د نکاح د تړونونو ثبتول:**

۱- ماذون هغه دولتي مامور دی، چې د نر او ښځې ترمنځ د نکاح تړون (ایجاب او قبول) ترسره کوي. هغه د نر او ښځې وړتیاوې څېړي او له نکاح او ملاقات مخکې د شریعت شرایط او د شرعي اعتراضونو نشتوالی څېړي. دی همداراز د نکاح د تړون په وخت کې د نر او ښځې، ولي او شاهدانو شخصیت څېړي. دی د نکاح د تړون په

وخت کې د نر او ښځې بیانونه په لوړ اواز یادوي، یعنې هغه څه چې د ښځې ولي یې وایي: «زه خپله لور تا ته په شرعي نکاح درکوم» او همدغه مامور نارینه ته له شرعي حکمونو سره سم د ښځې بیان وایي: «زه له دې سره نکاح منم». دی د ښځې د نکاح قبلول تضمینوي. دی د نکاح تړون د لیکلو له لارې ثبتوي، ترڅو یو رسمي پیژندل شوی سند ترې جوړ شي. په دغه تړون کې د دواړو غاړو منل شوي شرایط، د مهر اندازه، دا چې مهر معجل او یا مهر موجل دی او داسې نورو شیانو یادونه کېږي.

۲- په دولتي ادارو کې د نکاح تړون ثبتول نه رکن او نه کوم د اعتبار شرط دی. یعنې د نکاح تړون د حکومتي ادارو له ثبت پرته چې رکنونه او شرایط یې پوره کړي وي، صحیح دی. که څه هم د نکاح تړون ثبت د خاوند او مېرمنې حقوق ساتي او د زیان مخه یې نیسي. که د شخړې پر مهال د اسنادو نشتوالی د نر، ښځې او ماشومانو د حقونو د نه راعایت لامل گرځي، نو په دې صورت کې د تړون ثبت لازمي دی. که د شخړې پر وخت د اسنادو نشتوالی د نر او ښځې او ماشومانو حقونو ته زیان نه رسوي، نو په دې صورت کې د تړون ثبت لازمي نه دی. دا اړتیا شته چې واقعیت وپیژندل شي (تحقیق المنات)، ترڅو د خاوند او میرمنې او د دوی د ماشومانو ترمنځ د شخړو د قضیو نوعیت درک شي. په اوس وخت کې گڼ شمېر هېوادونه د نکاح او د ماشوم د کورني تړاو تړونونه تر هغو نه مني، چې په حکومتي ادارو کې ثبت شوي نه وي.

درېیم: د هغې ښځې په اړه د شریعت حکم، چې د «ماذون» دنده ترسره کوي:

۱: پورته د ماذون دنده څرگنده شوه، چې دی د نکاح د تړون برخه نه دی؛ یعنې ماذون د نکاح په تړون او یا د ایجاب او قبول پر مهال د خاوند یا ښځې وکیل او استازی نه دی. د ماذون دنده د نکاح عقد تړل نه دي، بلکې دا تړون به د نکاح د دوو اړوندو اړخونو له خوا وي: ښځه/ کوژدن د خپل ولي په واسطه او مېړه/کوژدن د خپل ځان په استازولۍ هم د نکاح د عقد مراسم مخې ته وړلی شي.

۲: البته د ښځې گومارل د نکاح د عقد د ترسره کوونکي (ماذون) په توگه؛ په دې حالت کې دې ته دا واک ورکوي چې د نکاح تړون ترسره کړي، نو دا د ښځې وکیل ته امر کوي چې د ښځې خاوند ته دا الفاظ ووایي: «زه خپله لور تا ته په نکاح درکوم ...» او بیا خاوند یا د هغه وکیل ته وایي چې دا الفاظ ووایي: «زما د دې نکاح قبوله ده.» نور هغه اړین مسایل چې د نکاح پر مهال باید په پام کې ونیول شي لکه: شاهدان یا هم ځینې نور مسایل دي. یا په بله وینا نومورې ښځه د نکاح مراسم تنظیموي او یوازې دا دنده نه لري چې د نکاح تړون په اسنادو کې ثبت کړي، ځکه د اسنادو ثبت، په ریکارډ کې داخلول، د تاید مراحل، د اوقاف او اړوندو اړخونو لاسلیکونه راټول او نور د دولت په ادارو کې ترسره کېږي.

۳: هغه احادیث چې ښځې پکې منعه شوې، ترڅو ځان او یا هم بله ښځه په نکاح ورکړي؛ د مثال په ډول د ښځې د ایجاب او قبول له پروسې څخه منعه کول. د دغو احادیثو په حواله دا روښانه کېږي، چې ښځې د نکاح په جریان کې د ایجاب او قبول له ترسره کېدو څخه منعه شوې دي او د ښه وضاحت لپاره وایو:

الف: د ماخذ له لوري اشاره (دلالت الاشاره) له مانا څخه مفهوم شوې ده او په متن کې دا مانا نه لري، خو د ماخذ له لوري یې مفهوم د متن په څېر را اخستل شوی دی:

ـ د اسلامي شخصیت کتاب، درېیم ټوک، مفهوم نومي فصل کې دغه ډول عبارت راغلی دی: «...له متن څخه معنا اخیستل د ویل شویو کلماتو له (منطوق) او (مفهوم) څخه اخیستل کېږي. که چېرې معنا له ویل شویو کلماتو څخه وانه خیستل شي، نو دا له منطق څخه اخستل شوې ده او بل څه نشته. له همدې امله خو د اقتدا (له متن څخه) مانا، د بیدارۍ (تنبه) مانا، د ښورېدو (ایما) مانا او د ماخذ (اشارې) له لوري مانا له مفهوم څخه اخیستل کېږي او همدا ډول د موافقې او مخالفت معنا هم له مفهوم څخه اخیستل کېږي.

له ماخذ څخه اشاره په دې ډول ده: کله چې د شرعي حکم د دلیل لپاره کوم متن راشي او یا غواړي یو حکم ته اشاره وکړي؛ خو هغه څه چې له دغه متن څخه مفهوم شوي، هغه یو بل حکم دی چې په متن کې راغلی او څرګند شوی دی او یا متن په دې خاطر راغلی، ترڅو یو حکم ته اشاره وکړي. دویم دا چې حکم له متن څخه نه دی را اخستل شوی. له همدې امله له متن څخه د حکم په اړه اشاره نه ده ټاکل شوې او یا اشاره نه ده ورته شوې، خو هغه مفهوم ترې اخستل شوی، چې د ماخذ له لوري اشاره ورته شوې ده (دلالت الاشاره). د بېلګې په ډول:

ـ د دغه ایت بشپړه معنا داسې ده: ﴿**حَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْراً**﴾ ژباړه: او د هغه په حمل او تي ورکولو کښې دېرش میاشتې ولګېدلې. [الاحقاف:۱۵] د الله سبحانه وتعالی دغه قول: ﴿**فِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ**﴾ ژباړه: او دوه کلونه یې په تي ورکولو ولګېدل. [لقمان: ۱۴] په دې مانا چې د حمل موده لږترلږه شپږ میاشتې ده، که څه هم د دغه نص مراد دا نه دی. دې ته دلالت الاشاره وایي. پای

ـ په تیسیرالوصول الی الاصول کتاب کې د ماخذ د اشارې مثالونه راغلي دي:

﴿**وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ**﴾

[البقره: ۲۳۳]

***ژباړه:*** *ميندې کولی شي تر دوو کلونو پورې خپلو ماشومانو ته د خپلې شيدې ورکړي، هغه ميندې چې وغواړي د شيدو ورکولو موده پوره کړي. پلار ته په کار ده، چې د مور د نفقې او جامو ترتيب په ښه توګه سره وکړي.*

له دې څخه دا مفهوم اخستل کېږي چې د اولاد نسب پلار ته ور ګرځي.

**﴿لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَىٰ أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِّن نِّسَاءٍ عَسَىٰ أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ﴾**

[الحجرات: ١١]

***ژباړه:*** *يو قوم دې پر بل قوم تمسخر نه کوي، ښايي هغوی تر دوی غوره وي. ښځې دې پر نورو ښځې تمسخر نه کوي، ښايي هغوی تر دوی غوره وي.*

له دې څخه د ماخذ د اشارې په حالت کې داسې مفهوم اخستل کېږي، چې د سړيو ټولی له ښځو څخه بېله ده. ښځې د ښځو له لاسه تمسخر کېږي او نارينه د نارينه وو له لوري....)

نور مثالونه يې هم شته:

حکيم په خپل مستدرک کې راوړي او وايي: دغه حديث د دوو شيخينو د شرط له مخې صحيح دی، چې ابو موسی يې له پيغمبر عليه السلام څخه روايتوي:

**«الْجُمُعَةُ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ فِي جَمَاعَةٍ إِلَّا أَرْبَعَةٌ: عَبْدٌ مَمْلُوكٌ، أَوِ امْرَأَةٌ، أَوْ صَبِيٌّ، أَوْ مَرِيضٌ»**

***ژباړه:*** *پر هر مومن واجب دي، چې د جمعې د ورځې لمونځ په جماعت سره وکړي، خو څلور کسان ترې مستثنا دي: غلام، ښځه، نابالغ هلک او ناروغ.*

له دغه حديث شريف څخه ښکاري، چې د جمعې لمونځ پر ښځې نشته. د دلالت الاشاره څخه دا ښکاره شوه، چې ښځې ته د جمعې د لمانځه پر مهال د سړو امامت روا نه دی، ځکه د جمعې لمونځ پر نارينه وو فرض دی، نه پر ښځو. د هغه شخص امامت چې د جمعې لمونځ پرې فرض وي، داسې څوک نه شي کولی چې د جمعې لمونځ پرې فرض نه وي.

ب ـ په راغلو احاديثو کې له څرګندونو څخه جوته شوه، چې يوه ښځه د خپلې يا بلې ښځې د نکاح د عقد د تړلو صلاحيت نه لري. دا هم ثبوت شوه چې ښځه د نکاح د عقد تړلو پر مهال د ايجاب او قبول د پروسې د پر مخ وړلو اختيار او حق نه لري. د مثال په ډول چې د ښځې ولي ته وويل شي: «ووايه! زه خپله لور او يا هغه څوک

چې زه يې ولي يم، تا ته په نکاح درکوم...» او خاوند يا د خاوند وکيل ته ووايي: «ووايه! زما د دې نکاح قبوله ده». ښځې ته روا نه ده چې داسې وکړي. البته دلته مو دې خبرې ته پام وي، چې دا کار د دولت په ادارو کې تر نکاح وروسته د نکاح له ثبتولو سره توپير لري؛ لکه په ريکارډ کې ثبتول او د متخصيصينو لاسليکونه را ټولول او نور. ثبتولو اجازه شته او کومه ستونزه نه لري، هغه که د نارينه له لوري ثبت شي او يا د ښځې له لوري.

۴- پر دې سربېره يوې بلې خبرې ته مو پام وي، چې د ماذون کار تر ډېره په سړيو پورې اړه لري. د نکاح د تړون مشري د دوو سړيو له خوا کېږي؛ شاهدان او ولي دواړه بايد نارينه وي او داسې نور.  همدارنگه په گڼو اسلامي هېوادونو کې د نکاح تړلو پر مهال جلا مراسم نيول شوي وي او ماذون د زوم يا ناوې کور ته راغونښتل کېږي او گڼ نارينه پکې گډون کوي. د سړيو شمېر تر دوو شاهدانو پورې محدود نه وي، بلکې ډېر زيات وي او ټول خلک د نکاح په مراسمو خبرېږي. په ځينو هېوادونو کې ودونه يوازې د ماذون په دفتر کې نه ترسره کېږي، بلکې د گڼو سړيو په منځ کې ترسره کېږي. په دغه حالت کې ماذون د نامجازي گډولې سره يو ځای کېږي، ځکه دلته يوازې د تړون اړخونه او شاهدان حاضر نه وي.

په پای کې:

- ښځې ته روا نه ده چې خپل ځان يا بله ښځه په نکاح ورکړي. ښځې ته اجازه نشته چې د ايجاب او قبول پروسه خپله ترسره کړي، ځکه شرعي نصوص يې منعه کوي.

- له متونونو څخه جوته شوه، چې ښځه د ايجاب او قبول د پروسې پر مخ بېولو حق نه لري.

- ښځه د نکاح د تړون اسناد او شواهد په دولتي ريکارډونو کې په داسې ډول ثبتولی شي، چې د نکاح د تړونونو لپاره په کړنچارو کې ورته ټاکل شوي دي.

- يو ښځه چې د زوجينو تر منځ د ايجاب او قبول پروسه ترسره کوي، دا نه کومه اړتيا ده او نه هم د نکاح د صحت لپاره شرط؛ نو د نکاح تړون هغه مهال د اعتبار وړ دی، چې زوجين د تړون او صحت شرايط پوره کړي.

وروستۍ پايله:

- يوه ښځه د ماذون د مسوول په توگه د ايجاب او قبول پروسه په خپل واک کې نه شي اخيستی او نه يې پر مخ بولی شي.

- د نکاح تړون تر هغه وخته جواز لري، چې د ښځې او خاوند له لوري يې شرايط پوره شوي وي او د ماذون جنسيت د دغو شرايطو برخه نه ده.

زما په اند په دې اړه همدا غښتلي دلایل دي. الله سبحانه تعالی تر ټولو عالم او باخبره ذات دی.

**ستاسې ورور!**

**عطا بن خلیل ابوالرشته**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د صفر۲۴مه**

**۲۰۱۹م کال، د اکتوبر ۲۳مه**